پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۵/۱۲/۲۷

# په نويو شعري فورمونو کې د لنډۍ کارول
# ۲

## لنډۍ او د لنډيو د ثبتولو ستونزه
## څوارلسمه برخه

ديموکراسي له بر کته

دلنډغرو بز غلي شنه شوي دينه

خالي به پاتې شي کابله

زلميان روان دي درنه کډي باروينه

ټکوريزه د پښتو د نويو شعري ژانرونو په ډله کې بل نوی شعري ژانر دی چې په جوړښت کې يې لنډۍ کارول شوې ده او د بدن اساسي برخه يې لنډۍ جوړوي. ښاغلی يون د خپل بحث په لړ کې د ټکوريزې او لنډۍ د امتزاج يا يو ځای والي په باب داسي ويلي دي:

« ټکوريزه په پښتو ادب کې بله جوله ده چې غالباً تر ټپيزې وروسته رامنځته شوې ده. له ټپيزې سره يې توپير دادی چې دا فورم په مجموعي ډول شپږ مسرې لري او ټپيزه پينځه. په ټکوريزه کې څلور مساوي الوزنه مسرې چې د يوې څلوريزې بڼه لري؛ د ټکوريزې لومړی اصلي برخه او دوه وروستی مسرې چې اصلي لنډۍ ده، د ټکوريزې دويمه برخه جوړوي.

که څه هم د (ټکوريزې) نومونه يوه محتوايي اصطلاح ده نه شکلي، خو بيا هم چې د يو شکل لپاره غوره شوې ده، پر ذهن بده نه لګي. ټکوريزې ته ځکه محتوايي اصطلاح وايو چې يوه محتوا بيانوي؛ ياني همغه شعر چې زړه ته تسکين او ټکور ورکوي. لکه مرثيه، ويرنه، وياړنه يا غندنه چې محتوايي فورمونه دي. يوه ويرنه يا مرثيه کېدی شي په غزل، قصيدې، مثنوي او يا هم کوم بل فورم کې وړاندې شي، دغسې په يو غزل، قصيده، يا بل شعري فورم کې کېدی شي، ټکوريزه محتوا هم وړاندې شي، نو دلته بايد د فورم بڼه يا محتوايي شکل په دقت سره وارزول شي، خو له دې سره سره ټکوريزه ډېره ښايسته او خوږه نومونه ده او راساً د سړي د زړه تل ته لاره کوي او د هغه شعري فورم، چې د يوې لنډۍ او څلورو لنډو محدالوزونه مسرو لرونکی وي، د هغه لپاره يې کارونه مناسبه برېښي. ځيني ليکوال وايي چې ټکوريزه اصلاً له يوې قطعي او يوې لنډۍ څخه جوړېږي. دلته ځيني کسان د (قطعي) او (څلوريزې) ترمنځ توپير نه کوي. قطعه او څلوريزه دواړه هغه شعري فورمونه دي، چې له عربي څخه پښتو ته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

راغلي دي، د دواړو د مسرو شمېر سره مساوي وي، خو توپير يې يوازې په دې کې وي چې د قطعې دويمه او ځلورمه مسره په خپل منځ کې مشترکه قافيه لري او د ځلوريزې بيا لومړۍ، دويمه او ځلورمه مسره خپل منځ کې مشترکه قافيه تعقيبوي.»
ښاغلی يون وايي چې ټپيزه او ټکوريزه دواړه د لنډۍ تابع دي، توپير يې دا دی چې د مسرو شمير يې فرق لري. دغه بېلګې يې د استاد محبوب شاه محبوب له «ګور ګورې» نومې ټولګې څخه را خوښې کړې دي:

**سويه ګوګله!**

مړ شي پاګله

زما جانانه

د ګلاب ګله

پاس په کمره ولاړه ګله

نصيب د چا يې اوبه زه درخېږومه

جانانه خاندې

سترګې دې لاندې

په ترخ راګورې

هيلې دې تاندې

جانانه زېرې مې درباندې

زموږه کډه ستاسو کلي ته درځينه.

دغه راز ښاغلي لالا پاچا آزمون هم د « ټپيزه ،ټکوريزه او هايکو » تر سر ليک لاندې ښايسته اوږده مقاله ليکلې ده. د ښاغلي آزمون د مقالې اصلي موخه له دغو نويو شعري فورمونو سره د مخالفت غږ اوچتول دي. ده خپل مخالفت په ښکاره ډول له خپلو دلايلو سره وړاندې کړی دی او ويلي يې دي چې دا د لنډۍ له شعري فورم سره يو ډول جفا ده چې ارزښت يې له خاورو سره برابروي.

ښاغلی آزمون د خپلې مقالې په پيل کې په پښتو کې د رايجو شعري فورمونو په باب له ښاغلي يون سره د خپل نظر مخالف ټکي وړاندې کړي دي او بيا يې په ټپيزې او ټکوريزه کې د لنډۍ کارول يو منفي کار ګڼلی دی. آزمون وايي چې لنډۍ يو مُشبع(موړ يا ډک) فورم دی نور اوږدولو ته اړتيا نه لري. د ده د نظرياتو په يوه برخه کې راغلي دي:
« داسې نه شي چې سباهرسرې پاخې، زاړه او دودېز فورمونه د خپلې وينا په پای او يا پيل کې راوړي او بيا پرې د نوي فورم نوم کېږدي. ټپيزه له نومه ښکاري چې له ټپې راوتې وينا ده. نه يوازې د جوړښت له مخې، بلکې د منځپانګې له مخې هم. د دغې منظومې ويناوييناوال لومړی يوه ټپه اوريدلې يا لوستې. په زړه يې ناسته ده. ايسته يې ترې درې مېسرې ورته له مخه کړې .بيا يې خوله په سره کړه ايښې او داسې ګومان يې کړی چې ګوندې نوښت يې وکړ. دا نوښت نه دی چې سرې پر بل بنسټ، هغه هم پرهغه بنسټ چې عام ښايست او مقبوليت لري، خپله وينا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

ورواچوي او بيايي نوی بنسټ یا فورم وبولي. که دا لاره خلاصه شوه، نو موږ به له ډېرو فورمونو خلاص شو. سبا به نور ځوانان را جګېږي او پر نورو زړو فورمونو خپله وینا داسي ورغورځوي چي له هغي پخوانی وینا سره به هم تړاو نه لري. ښه اوس پوښتنه دا ده چي که موږ دا یو نوی فورم وبولو، نو بیا لنډۍ څه شوه؟ لنډۍ خو دولس مال او یو نا څرګند ویونکي وينا ده. کله چي په ټپيزه کي راغله. ټپيزه خو خپل ویناوال لري، نو دغه ویناوال د ولس مال په خپل نوم کړ. هغه کوم ارزښت چي له موږ سره و او پرې حساب مو کاوه، هغه خپله له منځه لاړ. داسي ښکاري چي د دغه وتلي فورم د ارزښت خاوري کولو او تاريخي قدامت په له منځه وړلو پسي خلکو راخستي ده.»
لال پاچا آزمون په جدي ډول له دې سره مخالف دی چي له لنډۍ سره دې څو نوري مسرۍ ونښلول شي او نوی نوم دي ور ته غوره شي:

«زما له نظره موږ باید په زوره او په لوی لاس دغه د زر غوندي وینا په ایرو کي ورکه نه کړو. دا هغه وینا ده چي د ژوند د نورو تجربو په منځ کي راوتي او لکه زر ځلېدلی.»
دغه راز دی له دې کار سره د خپل مخالفت په ترڅ کي د خپلي مقالي په يوه بله برخه کي داسي وايي:
« که څوک لوبه، یا بل کوم فورم د ټپي پر وزن او بحر لیکي، ودې يې لیکي، خو په طبعي ټپو پورې دې څه نه تړي.»
دی د خپل مخالفت د دلایلو په لړ کي په دې ټکي ټينګار کوي چي په ټپيزو کي کله داسي هم کيږي چي چي ویناوال د خپلو غوښتنو او ذوق له مخي په لوی لاس ټپه خرابوي او زیان ورته رسوي چي دا کار د ټپي ښکلا او معنوي ارزښت ته هم زیان رسولی شي.
آزمون د ټکوريزې له شعري ژانر سره هم مخالفت ښودلی دی، په تیره بیا په هغې کي د لنډيو کارول او یا د ځينو نورو شعري فورمونو راوړل او په پای کي ور پورې د يوې لنډۍ نښلول غیر قانوني بولي. دی د خپل استدلال په يوه برخه کي داسي وايي:

« که کوم ځانګړی فورم له داسي ترکيبي فورمونو رامنځته کېدای شي او بيايي موږ ځانګړی فورم او نوښت هم وبولو، نو دا خو هم د هر چا له وسه پوره ده چي دې ته ورته دوه یا تر دوو زیات نور زاړه فورمونه را واخلي او سره ګډ يې کړي. سبا به بیا هغه هم نوی فورم ګڼو؟ زه هم دا اوس کولای شم چي یوغزل، پښتو څلوریزه، چاربیته او... سره ګډ کړم او په پای کي یوه لنډۍ ور وولم. زما دا نوښت به معنوي تړون هم سره ولري. نو دا به نوی فورم وي؟ که دا نوی فورم وي، نو بیا خو دا کار اسانه دی. له ټپي پرته لري نه ده چي زموږ زلمي نظم لیکونکي سبا سروکي او يا د عامو سندرو نور ځېلونه را واخلي او خپلي یو څومنظومي خبرې ور پورې وتړي. دا به هم سبا یو نوی فورم یادېږي. په دې توګه به موږ خپل ټول زاړه ارزښتونه او دولس مال بايللی وي.»
د دغو دوو شعري فرمونو(ټپيزه، ټکوریزه) چي له لنډيو نه په استفادې سره ویل کيږي، د موافقينو او مخالفينو جګړه او استدلال، د دغو فورمونو له رامنځ ته کیدو سره پیل شوی ده. ما يې دلته دوې بيلګي را واخيستی، ښايي د دې موافقت او مخالفت په پلوي نوري لیکني هم شوې وي چي ما به نه وې لیدلي، او دا لړی روانه ده.
ما چي د نويو پښتو شعري ژانرونو(ټپيزه، ټکوريزه) د پلویانو او مخالفينو نظریات ولوستل او سره پرتله مي کړل، تر اوسه پورې دوی د خپلو استدلالونو له وسلو نه په استفادې سره په جګړه لګيا دي او د سلامت او ملامت پته يې نه ده مالومه.
لکه د نورو برخو په څېر، د دې برخي د ښه پای له پاره به هم د نموني له پاره څو نوې لنډۍ را وړم:

حسن دې کم غوسه دې ډیره
خلک د حسن مطابق غوسي کوينه

یو دوس نه دی چي به مړ شي
د دو سانو بزغلي شنه شوي دينه

زه اروپا ته نه راتلمه
د ټوپکيانو واکداري پسي واخيستمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

خالي به پاتي شي کابله
زلمیان روان دي درنه کډې بارونه

له هندوستانه مي را ستون کړي
له ګورستانه به دې څوک را ستنوینه

د والنتاین ورځې له پاره
ما په ډالۍ کې در لیږلي سلامونه

ظلم له ظلمه پیدا کیږي
امریکا جاني په چا مه کوه ظلونه

سفر ته، ځې څادر دې پریږده
روژه ګۍ راغله، تراویح به پرې کومه

په تراوو کې راپه یاد شوې
ملا ولاړ و زه سجدې ته ښکته شومه

دیموکراسي له بر کته
دلنډغرو بز غلي شنه شوي دینه

د څوارلسمي برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ